SHARIAT WEEKLY
شریعت
اوونیزه
په اوونی کي دوه ځله خپرېږي
دافغانستان د اسلامی امارت مرکزی نشراتی ارگان
پنځم کال ځلور پنځوسمه گڼه پرله پسی (۳٤۱) سه شنبه د۱٤۲۱هـ ق کال دجمادی الاول (۱) د۱۳۷۹هـ ش کال د زمري دمياشتی(۱۱) د ۲۰۰۰ میلادي کال د اگست (۱)

د اطلاعاتو او کلتورمحترم وزیر :

د پیټر تامسن څرگندونې د افغانانو د ارمانونو خلاف دي

کابل - باختر :

د اطلاعاتو او کلتور وزیر محترم مولوی قدرت الله جمال پرون د باختر اطلاعاتی آژانس سره په یوه مرکه کی د پیټر تامسن هغه څرگندونې چی د امریکا د بهرنیو چارو د وزارت د بهرنیو اړیکو کمیټې ته یې د افغانستان د حالاتو په باره کی وکړی بی بنسټه او له حقیقت څخه لرې وبللې.

وی ویل : د پیټر تامسن د څرگندونې چی گنې د ده په نظر به د روان کال په بهیر کې به د افغانستان په دننه کی د اسلامی امارت پر ضد بغاوتونه پیل شی او طالبان به له هیواد څخه وشړل شی له هغو واقعیتونو سره په بشپړه توگه توپیر لری چی په افغانستان کی موجود دی ځکه طالبان د افغان مجاهد ولس رښتینی بچیان دی او د همدی مسلمان ولس د سوکالی او تیکمرغی په خاطر یې پاڅون کړیدی.

محترم جمال وویل د افغانستان اسلامی امارت د هیواد د خلکو په بشپړ ملاتړ او پیوستون سره د هیواد په سلو کی په څه د پاسه برخه نوی خاوره کی د امنیت... ٤ مخ

الهي فرمان

عدل (انصاف) وکړئ تاسي !، همدا (عدل) دیر نژدې دی تقوا(پرهیزگاری) ته .
(سورة المائدة)

توجه !

ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را بي حرمتي بگذارید.

د بهرنیو چارو وزارت محترم معین :

اسلامی امارت

تل د خبرو او مفاهمې له لارې د ثبات په تامینولو ټینگار کړی

د اسلامي امارت مخالفین خپل پاینبت په جگړه کی وینی او د پردیو په اشاره په جگړې ټینگار کوي

کوم تبلیغات چی زمونږ پر خلاف کیږي له حقیقت نه لرې دي

د افغانستان قضیه دې خپله د افغانانو تر منځ د تفاهم له لارې حل شي

توماس روتینگ

د بهرنیو چارو وزارت معین محترم مولوی عبدالرحمن زاهد پرون له غرمی مخکی د خپل کار په دفتر کی د افغانستان لپاره د ملگرو ملتو د سازمان د دفتر د خاص هیأت له سیاسی سلاکار شاغلی توماس روتینگ سره وکتل.

د باختر اطلاعاتی آژانس خبر راکړ په دی کتنه کی د علاقی ور مسألو په باب خبري اترې وشوی او د بهرنیو چارو وزارت محترم معین د بغلان ولایت په مربوطاتو کی د وروستیو نښتو په باره کی معلومات وړاندی کړل او وی ویل : د افغانستان اسلامی امارت تل د خبرو او مفاهمی له لاری د سراسری سولی او ثبات په تامینولو باندی ټینگار کړیدی.

لکه څنگه چی د هیواد په سلو کی په څه د پاسه ۹٥ خاوره کی بی سوله او امنیت تامین کړیدی خو له بده مرغه د اسلامی امارت مخالفین خپل پاینبت تل په جگړه کی وینی او د پردیو په اشاره او ملاتړ په جگړی باندی ټینگار کوی لکه څنگه چی په دی وروستیو وختو کی یې د بغلان ولایت په مربوطاتو کی د جگړی اور بل کړیدی. ده زیاته کړه : هغه پروپاگندونه او تبلیغات چی د مخالفینو لخوا د ... ٤ مخ

په ننگرهار کی :

څلور تنه قاچاق وړونکی ونیول شول

ننگرهار - باختر :

د ننگرهار ولایت امنیتی موظفینو د وسلو څلور تنه قاچاق وړونکی لاس په لاس ونیول.

د ننگرهار ولایت د استخباراتو ریاست منسوبینو په دی وروستیو وختو کی دده ولایت په مربوطاتو کی د وسلو څلور تنه قاچاق وړونکی له ۱۷ کلاشینکوفونو ،د کلاشینکوف له دری صندوقه گولیو او له پنځوسو شارژورونو سره یو ځای لاس په لاس ونیول.

قضیه تر تحقیق او څیړنی لاندی ده.

محترم قاضي القضات ا.ا.ا :

باید قضات محاکم تمام موضوعات حقوقي و جزايي مردم را به وقت و زمانش حل نمایند

شوراي عالي ستره محکمه تحت ریاست محترم مولوي نور محمد «ثاقب» قاضي القضات و رئیس ستره محکمه ا.ا.ا دیروز در مقر ستره محکمه دایر گردید.

ابتداء آیات چند از کلام الله مجید قرائت گردید سپس محترم قاضي القضات و رئیس ستره محکمه روي موضوعات و مسایل قضایي کشور صحبت همه جانبه نمودند. که

در بخشي از سخنان خویش فرمودند : قاضي شرع یقیناً بدون کدام اختلاف خلیفه رسول الله «ص» میباشد در اجرا احکام شرعی ص ٤

سیمینار تغذي از شیر مادر دایر گردید

کابل - باختر :

بخاطر هفته جهاني تغذي از شیر مادر دیروز سیمیناري در تالار کتابخانه وزارت صحت عامه دایر گردید.

این سیمینار که به اشتراک ژورنالستان وسایل اطلاعاتي جمعي ، دوکتوران و پرسونل طبي شفاخانه ها و کلنیک ها دایر گردیده بود محترم حقیار رئیس روابط بین المللي وزارت صحت عامه ، محترم داکتر دوست رئیس طب ص ٤

عربی ټولنی له اسرائیلو سره د امریکا پر همکاری انتقاد وکړ

عربی ټولنی د امریکا د متحده ایالاتو په جمهور رئیس بل کلنټن باندی له اسرائیلو نه بیت المقدس ته د امریکا د سفارت د احتمالی لیږدونی په باره کی دده د وروستیو څرگندونو په خاطر نیوکه وکړه .

د عربی ټولنی سرمنشی عبدالمجید وویل چی د امریکا د متحده ایالاتو د جمهور رئیس دغه شان څرگندونی حقوقی او قانونی بنسټ نلری او له گواښ ډکی دی.

ده وویل : د امریکا جمهور رئیس دغه څرگندونی پداسی حال کی کړیدی چی ٤ مخ

کار ترمیم سرک ولسوالي شینوار و غني خیل آغاز گردید

ننگرهار : باختر :

کار ترمیم و جغل اندازي سرک ولسوالي شینوار و غني خیل ولایت ننگرهار دیروز توسط محترم مولوي عبدالکبیر معاون اقتصادي ریاست الوزرا و رئیس تنظیمه زون شرق افتتاح گردید.

در محفلیکه بهمین ص ٤

در کابل :

کنفرانس مؤسسات مین پاکي تدویر یافت

کابل - باختر :

بخاطر ارزیابي فعالیت هاي شش ماهه موسسات مین پاکي و جلب کمکهاي بیشتر مالي و طرح پلان ربع سوم سال روان دیروز کنفرانسي به اشتراک رؤسا نماینده گان داخلي و خارجي موسسات مین ص ٤

د فرانسی د هوایی کرښی په الوتنو کی ستونزی رامنځ ته شوی

پداسی حال کی چی د فرانسی د هوایی شرکت مربوط د کانکورډ د ولة الوتکی له راغورځیدو څخه یوه اوونی تیریږی ددغه دول الوتکو په الوتنه کی بیا ستونزی څرگندی شوی.

د انگلستان د هوایی شرکت ٤ مخ

ما ارزشمندي پروگرام هاي تعلیمي را در افغانستان بالاتر از پروژه هاي غذایي میدانیم

محترم آدم «کوسه» معاون مدرسه بین المللي آریانا افغان-ترک :

موسسات خیریه باید کمک هاي خویش را جهت شگوفایي معارف سوق نمایند

محترم جوره محمد «قرباني» یکتن از استادان مدرسه آریانا افغان - ترک

تاجران وطن باید در باز سازي علمي کشور سهیم شوند

احمد شفیق «جدي» طالب العلم صنف هشتم مدرسه آریانا افغان - ترک

خبرنگار ما به منظور روشنایي هر چه بیشتر اذهان هموطنان ما در رابطه به فعالیت تعلیمي مدرسه بین المللي آریانا افغان - ترک گزارشي را از این مدرسه ترتیب داده است که توجه شما عزیز دوستان را به خوانش آن فرا میخوانیم :

مدرسه بین المللي ص ٤

د کلورېشن د پروگرام مسؤل محترم الحاج سید نجیب الله معصوم یار له «شریعت» سره په مرکه کی :

د کابل ښار د څښاک د اوبو ټولي زېرمی به کلورېشن کړو

شریعت : د نس ناستی ، پیچش، محرقی، کولرا، آمیب او داسی نورو انتانی ناروغیو د مخنیوی په خاطر د کابل ښار د څښاک د اوبو د ټولو زېرمو او عامه ځاگانو د کلورېشن پروگرام چی د جولای د میاشتی په شلمه نیټه پیل شوی ٤ مخ

د زمباېوی دولت :

یو زیات شمیر سپین پوستی له خپلو ملکیتونو څخه بی برخی کړل

د زمباېوی دولت په پام کی لری چی ددغه هیواد یو زیات شمیر سپین پوستی کروندگر له مالکیت څخه بی برخی کړی.

د زمباېوی تلویزیون اعلام وکړ چی د هغو اتو سوو تنو په ځای به چی پخوانی اېکل شوی و د دری زره تنو سپین پوستو کروندگرو مالکیت په دولتی مالکیت بدل شی. د زمباېوی دولت غواړی له دی اقدام ٤ مخ

امریکا پر ایران د تروریزم د ملاتړ تور ولگاو

د امریکا متحده ایالاتو یو ځل بیا په ایران باندی له تروریزم سره د ملاتړ د منځنی ختیځ د سولی په خبرو کی د خنډ د پیدا کولو او د ولة بیزی وژنی په وسلو باندی د لاس بری لپاره د هلو ځلو تور ولگاوه.

د امریکا د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزیری مادلین البرایت پرون له یوی جاپانی ورځپانی سره د مرکی په ترځ کی ادعا ٤ مخ

سرمقاله

دلوي خداي (ج) په نامه

مینونه د بی وزلی بشریت لنډ پاری دښمن

تیره ورځ په امریکا کی د مینونو په هکله یو سیمینار جوړ شوی و چی یو شمیر ټولنیزو کارکوونکو، انسانی حقوق څېړونکو او د مینو پر خلاف مبارزه کوونکو ټولنو یو شمیر استازو پکی برخه اخیستی وه او لکه چی څرگنده ده ټولو برخه والو په همدی خبره ټینگار وکړ چی باید په جگړه کی له مینو څخه کار اخیستل بند شی ځکه دا د یوه ناکلی دښمن پر خلاف نه بلکی د بی وزلو او له جگړې تښتیدونکو وگړو په خلاف یوه خطرناکه وسله ده او په دی کی هیڅ شک ٢ مخ

نمایی از ترمینل میدان هوایي بین المللي کابل بعد از احیاي مجدد - عکاسي یوسف

شریعت

د تأسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش

: د لیکوال هیئت ترنظر لاندې

مسؤول مدیر : عبدالرحیم «ثاقب»

مرستیال : غلام محمد فاروق

دیوي گڼي بیه : په هیواد کې (۱۰۰۰) افغانۍ په پاکستان کی (۳) کلداری

پسټ بکس : (٤٧١) کابل - افغانستان تیلفون : ۲۱۳۸۱- توزیع او شکایات :۶۲۸۵۹

جاري حساب : $\frac{٤٠٣٨٥}{٧}$ د افغانستان بانك مرکز

چاپ : امارتي مطبعه

د سرمقالې پاتي برخه

نشته چی میینونه تقریباً ۹۰٪ داسی خلک له منځه وړی چی هیڅکله وژلو او جگړی کولو ته چمتو والی نه لری او دا خبری یی په خیال او خاطر کی نه تیریږی خو په ډیر ناڅاپی او ناځوانه ډول د مینو په اثر له منځه ځی نو په همدی اساس ویلای شو چی دا هغه وسله نه ده چی څوک به خپل دښمن له منځه پری وړی بلکی دا د عام ولس تباه کولو او عیبی کولو یوه بدمرغه هڅه ده او که سړی ښه ځیر شی نو د بشریت ددغه پټ دښمن استعمالول یقیناً له بشری حقوقوڅخه ډاگیزه سر غړونه ده ، له نیکه مرغه د څو وروستیو کلونو راهیسی په نړی واله توگه ددی خطرناک دښمن په خلاف یو خوځښت را پیل شوی او ملاتړی یی ورځ په ورځ زیاتیږی چی په دی لړ کی د ۱۹۹۸ م کال د «اتاوا» تړون نږدی یو نیم سل هیوادونو لاسلیک کړ او له مینو څخه د کار نه اخیستلو سپارښتنه پکی شوی وه خو دلته پوښتنه دا ده چی ولی په دی هکله د پراخ نړی وال د باو سره سره بیا هم امریکی لا تر اوسه په دی لوزنامه لاسلیک نه دی کړی ؟ او سره له دی چی د مین پاکولو مؤسسو او نورو مین مخالفو ټولنو سره هم خواخوږی څرگندوی ، هم سیمینارونه ورته جوړ وی او هم مالی مرستی ورکوی خو په خپله یی بیا د لاسلیک نه معذرت غواړی !

په دی هکله خو سړی نور هیڅ هم نه شی ویلای چی په دی کی به دامریکی څه چل وی، خو دا خبره له واره ذهن ته راځی چی ښایی دا ډول حکومتونه به د نورو بی وسلی کول او ځان لا نور هم ښه چمتو کول غواړی او بس. له دی پرته خو هیڅ کوم داسی دلیل نه لیدل کیږی چی د مین غوندی خطرناک بشری دښمن په خلاف دی یوه اتفاقی نړی واله لوزنامه ونه شی او په بشپړ ډول دی د مینونو جوړول، کارول او سوداگری بنده نه شی خو په هر صورت ښایی ټول نړی وال حقایق او واقعیتونه وپیژنی او د چا په بی ځایه پروپاگند غوړولا پو او چالاکی ونه غولیږی بلکی عملاً دی معلومه کړی چی څوک په ریښتینی ډول بشری خواخوږی لری، د بی وزلی انسانیت په کړاو کی شریک او د سوکالی په تکل یی دی له نیکه مرغه افغان ولس ته دا خبره یو لوی وياړ دی چی اسلامی امارت ان د قیام له ورځی د مینونو کارول بند کړی او په ښه ډول یی ثابته کړی چی هیڅکله به له دغی موذی بلا نه کار وانه خلی، دا په داسی حال کی چی مخالفینو په ارت مټ له مینو کار اخیستی، او پراخی سیمی یی تری ډکی کړی چی هم یی د اسلامی امارت مجاهینو او هم عام بی دفاع ولس ته د سر درانه زیانونه اړولی دی که څه هم په دی برخه کی ځینو نړی والو څیړونکواو بی پری خبریالانو د امارت دا پالیسی تصدیق کړی خو بیا هم د ملگرو ملتو او نورو اړوندو ادارو له خوا ښه په کلکه په مخالفینو نه دا نیوکه شوی چی ولی مینونه کاروی او نه یی د هغوی د ایسارولو څه گواښنه کړی ده او له همدی ځایه څرگندیږی چی ځواکمن هیوادونه تر کومه بریده د خپلو سیاسی موخو لپاره بشری مصلحتونه له پامه غورځوی.

خو له دی ټولو منفی اړخونو سره سره بیا هم اسلامی امارت یوځل بیا له دغه خطرناک دښمن سره د مبارزی لپاره د نړی والو پام را گرځوی او له خپل لوری ټولوته دا ډاډ ورکوی چی هیڅکله به د جنگی اهدافوپه خاطر له دغه بشری دښمن څخه کار وانخلی او غوښتنه کوی چی باید نړی واله ټولنه په مخالفینو هم زور واچوی ترڅو د هغو مینونو له استعماله لاس واخلی چی د روسانو او نورو مغرضو هیوادونو له خوانه پریمانه ورکول کیږی همدارنگه اسلامی امارت له ملگرو ملتو او نورو بشري ټولنو څخه دا هیله او غوښتنه کوی چی د هغو مینو په پاکولو کی له افغانانو سره مرسته وکړی چی د هیواد په ډیرو سیمو کی د روسانو له خوا ایښودل شوی او زمونږ د هیواد والو د سر ا و مال د هلاکیدو باعث گرځی ، مونږ له مینو څخه یوه پاکه نړی غواړو .

د هیواد د فرهنگي فعالیتونو راپورتاژ

د اطلاعاتو او کلتور وزارت په تعلیمي سیمینار کي، (٤)

د شریعت اوونیزې درنو لوستونکو!
تیره اوونی د اطلاعاتو او کلتور وزارت په زیار ددغه وزارت د اړونده رئیسانو لپاره یو روزنیز اووه ورځنی سیمینار دائر شو چی د هیواد د ۲۸ ولایاتو د اطلاعاتو او کلتور رئیسانو پکی گډون کړی و .
زمونږ خبریال له فرصت نه په استفادی سره په نوموړو ولایاتو کی د فرهنگی بهیر او فعالیتونو په اړه له محترمو رئیسانو سره مرکه کړی چی په گډه یی لولو !

ولایت سمنگان نیز از ولایات باستانی و مهم افغانستان است مردم این ولایت رسم و رواجها و عنعنات ملی خویش را حفظ و بدیده قدر مینگرند. بزکشی از سرگرمی های عمده این منطقه بوده مسابقات جالبی بین تیم های مختلف دایر میگردد. یکی از مسؤلین آمریت اطلاعات و کلتور ولایت سمنگان در رابطه به فعالیت های فرهنگی این ولایت به خبرنگار ما چنین توضیحات دادند :

در چارچوب آمریت اطلاعات و کلتور ولایت سمنگان این شعبات شامل میباشند :

۱- مدیریت اداری : این شعبه امور اداری را به عهده داشته و مسؤول حفظ تمام اوراق و دفاتر رسمی میباشد.

۲- مدیریت رادیو صدای شریعت : این شعبه با استفاده از وسایل ساده دست داشته و همکاری مستقیم مقام ولایت بتاریخ ۱۴۲۰/۵/۱۱ به نشرات خویش آغاز نمود و در نشرات یک ساعته یومیه خویش برنامه های تلاوت قرآن عظیم الشان، مضامین دینی، اخبار، اعلانات، اطلاعیه ها، تبصره ها راپورتاژ ها، گزارشات، مصاحبه ها، و برنامه های زراعت، صحبت با جوانان، معارف و غیره را گنجانیده است. این رادیو از مدرک نشر اعلانات تا کنون مبلغ ۳۱ ملیون افغانی عواید داشته و بحساب مخصوص تحویل د افغانستان بانک گردیده است قابل یاد آوریست که سایر محافل فرهنگی، اجتماعی، دینی... از طریق این مدیریت سازماندهی میگردد. آژانس باختر نیز تحت شعاع این مدیریت ایفای وظیفه مینماید و تا کنون بیش از یکصد قطعه خبر و گزارش از اوضاع سیاسی، نظامی، اقتصادی، فرهنگی اجتماعی و غیره این ولایت را تهیه و به مرکز مخابره نموده است. که اکثریت آن از طریق امواج رادیوی سراسری شریعت غږ به نشر سپرده شده است.

۳- در کتابخانه عامه مجموعاً به تعداد ۹۱۵ جلد کتب گنجانیده شده است. باید یاد آور شد که در پهلوی این کتابخانه ، کتابخانه دیگری بنام بیهقی نیز فعالیت داشته در آن به تعداد بیش از ۱۰۰۰ جلد کتب موجود و در خدمت علاقمندان قرار دارد.

٤- مدیریت آبدات تاریخی : این شعبه مسولیت حفظ و نگهداشت آثار و آبدات تاریخی را به عهده دارد. در ولایت سمنگان این سه اثر تاریخی قابل یاد آوری میباشد : تخت رستم واقع در دو کیلو متری جنوب شهر ایبک که از ارزش و اهمیت ویژه یی برخوردار میباشد. ، هزار رسم که در ۳۰ کیلو متری غرب شهر ایبک قرار دارد و غار قره کمر که در ولسوالی روی دو آب در جنوب ولایت سمنگان قرار دارد.

باید گفت که نشرات جریده «سمنگان» به نسبت عدم موجودیت پرسونل مسلکی و برخی پرابلم های دیگر اکنون در حالت تعویق قرار دارد. البته در اینده نزدیک نشرات آن آغاز خواهد شد.

۵- مطبعه امارتی این ولایت به شکل تصدی امارتی وظایف خویش را انجام میدهد در پهلوی رفع نیازمندیهای مطبوع ادارات امارتی هر نوع فرمایشات هموطنان را نیز با شرایط سهل میپذیرد. تا کنون بیش از ۱۰۰ ملیون افغانی عواید داشته که بحساب مخصوص تحویل بانک گردیده است.

د پکتیا ولایت روښانه او تاریخی کلتوری بهیر لری د زین الاخبار ورځپانه له ۱۰۲۱ هـ ل کال نه پخوا د عبدالحی گردیزی له خوا چاپیدله او دغه راز نور خطی آثار چی د محترم صنوبر شاعر او محترم شیخ محمود ابن ضماک له خوا لیکل شوی د یادونی وړ دی.

دغه مطلب د پکتیا ولایت یو مسؤول خبر ځای زمونږ له خبریال سره په مرکه کی څرگند او زیاته یی کړه : مونږ هڅه کوو تر څو فرهنگیان د هغه کاروان لاروبان کړو چی زمونږ د ټولنی د ترجمانی تمثیل کوی .

د ورانگی جریدي له ۹ کلن ځنډ نه وروسته د روان کال د حمل په ۱۶ مه نیټه بیا په خپرونو پیل وکړ او په میاشت کی دوه ځله خپریږی.

لوگر هم د افغانستان په جنوبی زون کی یو مهم ولایت دی. د اسلامی امارت تر واکمنی پخوا په دغه ولایت کی د اطلاعاتو او کلتور تر عنوان لاندی هیڅ کومه ځانگه نه وه موجوده او د لومړی ځل لپاره په ۱۳۷٤ هـ ل کال د یوه مدیریت د تشکیل منظوری ورکړل شوه او په فعالیت یی پیل وکړ .

د لوگر ولایت په عامه کتابتون کی ۱۲۰۰ کتابونه موجود دی د اژانس ځانگه هم خپل اړوند خبرونه او رپوټونه د مخابری په وسیله مرکز ته رسوی د لوگر ولایت د اطلاعاتو او کلتور مدیریت په پام کی لری چی په راتلونکی کال کی د «سنځل گل» تر عنوان لاندی د مشاعری یوه پرتمینه غونډه جوړه کړی .

همدارنگه د خوست ولایت د اطلاعاتو او کلتور مسؤول زمونږ له خبریال سره د مرکی په ترځ کی داسی ووېل : د خوست ولایت کلتوری او فرهنگی هڅی په نورمال ډول پر مخ روانی دی د تاریخ په شهادت په دغی سیمه کی نامتو فرهنگی شخصیتونه او عالمان تیر شوی خو د وخت د حاکمو شرایطو له امله د دوی د تاریخی آثارو له جملی نه څه نه دی پاتی شوی او یا خو هم د وخت حاکمو رژیمونو د داډول آثارو شتوالی نشوای زغملی. د اسلامی امارت د واکمنی له برکته اوس په خوست کی یوه عصری کمپیوتری مطبعه تاسیس شوی مونږ په پام کی لرو چی ډیر ژر د خوست مجلی لومړی گنه د هیواد د مطبوعاتو او فرهنگی بهیر په شنه آسمان کی د یوه روښانه ستوری په څیر و ځلوو چی مینه وال به یی ډیر ژر په رڼو سترگو ننداره وکړی. د خوست فرهنگی ټولنه چی په ۱۳۷۶ کال جوړه شوه په پیل کی یی ۲۶ تنه غړی درلودل خو اوس یی د غړو شمیر له سلو نه هم زیات دی. ددی ټولنی غونډی په میاشت کی دوه ځله جوړیږی په خوست کی یوه ۷ کیلوواټه راډیویی دستگاه هم شته چی په نږدی وخت کی د هغی د فعالیدو په‌ځجه زمونږ د فرهنگی هڅو انگازی شاوخوا سیمو او حتی بهر ته هم خوری شی. د خوست په عامه کتابتون کي ۲۸۰۰ ټوکه کتابونه د لوستونکو په خدمت کی دی. د آژانس مدیریت هم خپل برابر شوی خبرونه په لنډ وخت کی مرکز ته مخابره کوی مونږ د خوست د کنډیو په سیمه کی د بودا د زمانی یو معبد کشف کړی او د هغه اړوند ۲۵ ټوټی آثار مو ملی موزیم ته لیږدولی دی.

کندهار د افغانستان لوی مشهور او تاریخی ولایت دی او د افغانستان په تاریخ کی ځانگړی اهمیت لری ددغی سیمی په پراخه او ښیرازه سینه کی گڼ شمیر توریالی او با تور شازلمیان زوکړی چی بیا دغو باتورانو د توری او قلم په دواړو ډگرونو کی ستری کارنامی او حماسی جوړی او د تاریخ په پاڼو کی یی په زرینو کرښو راتلونکو نسلونو ته په میراث پرینښی ، دا هغه سیمه ده چی میندو به خپلو زامنو ته په اوداسه شیدي ورکولی او په داسی سپیڅلی روحیه به یی روزل چی د خپل پلرنی ټاټوبی د ملی هویت، خپلواکی او ملی نوامیسو د خوندی ساتنی لپاره به همیشه سربښندنی ته تیار وی. د بیلگی په توگه د میرویس نیکه احمد شاه بابا ، نازو انا ، زرغونی، ملالی او ... نومونه یادولی شو چی د افغانستان په تاریخ کی یی د ملی اتلانو ویاړ گټلی او د تل لپاره به د خلکو په ذهنونو کی ژوندی وی.

دا چی د کندهار په ولایت کی فرهنگی چاری په څه ډول دی د نوموړی ولایت د اطلاعاتو او کلتور ریاست یو تن استازی زمونږ له خبریال سره په مرکه کی داسی څرگندونی وکړی :

په کندهار کی د اسلامی امارت تر واکمنی وروسته فرهنگی چاری گړندی شوی دی. د کندهار د شریعت غږ راډیو دری ساعته خپرونی لری چی په خپرونو برسیره گڼ شمیر په زړه پوری پرگرامونه خپروی.

د طلوع افغان ورځپانه چی په ۱۳۰۰ کال د مولوی صالح محمد له خوا تاسیس شوی له زیاتی مودی ځنډ وروسته یی اوس بیا په خپل نشراتی فعالیت پیل کړی او د ۱۵۰۰ گڼو په تیراژ په ښکلی قطع او صحافت په اوونی کی دوه ځله د کمپیوتری تخنیک په مرسته له چاپه راوزی د خلافت مجله هم په ښکلی قطع او صحافت د کندهار د اطلاعاتو او کلتور د ریاست له خوا د انجنیر عبدالله گل ربان په نوښت تاسیس شوی او تر اوسه یی ۱۶ گڼی له چاپه راوتلی. دغه مجله زیات مینه وال لری.

د کندهار مجله چی په ۱۳۷۸ کال یی په خپرونو پیل کړی د ملا عبدالحی مطمئن له خوا اداره کیږی او تر اوسه یی په ښکلی قطع او صحافت شپږ گڼی له چاپه راوتلی دی.

«ارغند» د کندهار د ادبی ټولنی یوه میاشتنی خپرونه ده چی لومړنی دوی گڼی یی د «ارغندله غاړی» په نامه د طلوع افغان د ملیانو په توگه په ۱۳۷۸ هـ ل کال په پرله پسی ډول خپری شوی خو وروسته د یو لړ تخنیکی ستونزو له امله وځنډیده خو د ۱۳۷۹ کال د غبرگولی په ۲۸ مه نیټه یی یو ځل بیا د مینه والو سترگی روښانه کړی. دغه ادبی نشریه د ملا عبدالولی حلم یار له خوا اداره کیږی او په راتلونکی کی به انشاء الله منظم نشرات ولری

د کندهار ولایت د ادبی انجمن غونډی په میاشت کی دوه ځله جوړیږی او د جوړیدو ویاړیی د هنر او ادبیاتو د اداری په برخه دی دغه راز د هرو دریو میاشتو په ترځ کی یوه ستره ادبی غونډه هم جوړیږی او د دی ولایت د فرهنگی چارو د لابنه سمون او سمبالتیا په هکله لازمی پریکړی کوی.

د کندهار ولایت امارتی مطبعه هم د جنوب لویدیځ زون له سترو مطابعو څخه شمیرل کیږی چی نه یوازی ددی ولایت، بلکی د شاوخوا نورو ولایتونو مطبوع پاڼی او نوری چاپی چاری سرته رسوی. د کندهار ولایت کتابتون هم د ۵۰۰۰ ټوکه کتابونو په درلودلو سره یو مهم کتابتون دی او دروازی یی د کتاب د مینه والو په مخ پرانیستی دی.

پای

ددی لړی د متن لیکونکی سید یوسف

۱ شرح منظومهٔ عروج و نزول اسلام

پوهیالی لیلما "یما"

میلاد حضرت پیامبر اسلام "ص"، نوری در میان تاریکی ها

خوانندگان گرامی ! رساله، «عروج و نزول اسلام» از خامه، نویسنده، توانا مرحوم الحاج محمد ابراهیم خلیل است .گر چه در ظاهر اسم کتاب به «عروج و نزول اسلام» اشاره شده است ولي در حقیقت هدف نویسنده عروج و نزول مسلمانان میباشد که معرفي این رساله تحت عنوان : مقدمه یي برمنظومه، عروج و نزول اسلام در شماره هاي مسلسل ۱۹۶-۱۹۷ هفته نامه شریعت بدست نشر سپرده شد و اینك شرح این منظومه با در نظرداشت موضوع آن به صورت مسلسل بدست نشرسپرده میشود .

قابل به یاد آوریست همانطوري که کشور ما در تمام عرصه ها ضرورت به باز سازي دارد در بخش فرهنگ ، ادب و تعلیم و تربیه نیز اشد نیاز به باز سازي محسوس است. به عقیده من اگر باز سازي درین بخش با آموزش و تحلیل متون تعلیمي آغاز گردد نتیجه بهتر بدست میدهد چه به اطفال،و نو جوانان و جوانان میبایست نشان داده شود که به کدام راه باید بروند.

روي همین منظور شرح رساله عروج و نزول اسلام را که تقریباً تمامي تاریخچه دین مقدس اسلام را به صورت موجز بیان نموده است به عنوان یکی از متون معتبر تعلیمي معاصر زیر کار گرفتم . امید وارم مقبول آید و موثر افتد.

رساله، عروج و نزول اسلام با مقدمه یی به نثر مسجعي بسیار زیبا آغاز گردیده که در آن این رساله «غربو بیتابي دل» و «فریاد رقص بسمل» که نتیجه، «جوش درون» شاعر دردمند آنست خوانده شده است

هدف شاعر ،«دلهاي اهل درد» است که از وضع اسلام و مسلمانان در جهان معاصر «جگر پرسوز و درد » و « طبع مکدر و غم پرورد » دارند.

به همین جهت سراینده این اشعار به صراحت میگوید : «مقصد تحریك عرق جمعیت کافه، امتان حضرت سید الانام است که به نهج فغان به جلوه، بیان آمده»

بنا برین از خوانندگان ویش توقع دارد تا به این رساله « به نظر درد و بصر سوز» نگرند تا چون دم مسیحا به جانبخشایي و چون نفس صبح به روح افزایي مقبول و موثر افتد.

بند اول مسدس :

د هر را چون ظلمت کفر و ضلالت تیره ساخت
اکثر آفاق طبل بت پرستي را نواخت
بر سر انسانیت وحشت لوایي بر فراخت
پس جهان را حضرت ایزد به لطف خود نواخت
اندران ظلمت یاتس و جان ضیاء بخشي نبود
یعني آورد از کرم نور محمد را فرود

شرح : هنگامي که کفر و ضلالت فضاي جهان را تیره و تار ساخته بود و در همه جا طبل بت پرستي و شرك نواخته میشدو پرچم وحشت و دهشت انسانیت را زیر سایه منحوس خویش قرار داده بود، ذات پروردگار لطفي بر بنده گان خویش نمود و در آن فضاي مملو از ظلمت و تاریکي ، جهان را با نور محمد «ص» پرتو افشاني نمود.

بند دوم :

باعث ایجاد عالم سید و سردار کل
خیر خلق و شافع روز جزا فخر رسل
باغ خلقت را وجود اشرفش زیبنده گل
در هدایت کافه، مخلوق را خضر سبل
پیش عالم بر شکست از پنجه معجز قرین
بدر را با یك اشارت در فلك هم بر زمین

شرح : سید و سردار کل جهان (حضرت پیامبراسلام) کسي است که خداوند عالم هستي را بخاطر وي خلق کرد او یي که بهترین مخلوقات است و شفاعت کننده امتان خویش در روز آخرت بوده و سید الانبیا میباشد. و وجود بزرگوار او به مشابه، گل زیبا و قشنگي است در باغ خلقت هستي که پیوسته کافه مخلوقات را چون حضرت خضر «ع» به راه راست هدایت و رهنمایي میکند. وي موجودي است که توسط سرانگشتان معجزه آساي خویش هلال مهتاب را در اسمان شق نمود و نیروي مهاجم کفار را با پاشیدن ریگهاي سر انگشتان خویش در زمین به شکست مدهشي روبرو کرد.

بند سوم :

نرگسش سیراب از سر چشمه، شرم و حیا
لعل و گوهر فشان از معدن حسن ادا
معني عزم و ثبات و بخشش وجود و عطا
عین عفو و رحمت و احسان و صابر بر جفا
نور روي نیکویش تابان تر از قرص قمر
بوي موي عنبرینش خوبتر از مشك تر

شرح : چشم او (حضرت پیامبر «ص») سیراب است از سرچشمه شرم و حیا و لب او درفشان است حین سخن راندن از معدن حسن ادا. او خود معني تمام عیار عزم و ثبات و بخشش و سخاوت است. او چشمه عفو و رحمت و کرم است و صبور و مقاوم است در برابر جفاهایي که از جانب کفار بر او وارد مي آید. روي زیبا و قشنگ او پر درخشش تر از قرص مهتاب بوده و موهاي عنبرین او خوشبو تر از مشك تر میباشد.

بند چهارم :

ذات قدسش را طفیلي خلقت کون و مکان
بر وجود اشرفش وحي منزل مدح خوان
به فلك طي عروجش را کمینه نردبان
محرم خلوتسراي ذات بیرنگي نشان
تاج عزت بر سرش از رحمت للعالمین
خاتم ایجاد را ذات همایونش نگین

شرح : زمین و اسمان به طفیل ذات پاك او به خلقت آمده و وحي منزل یا قرآن پاك مدح خوان وجود مبارك اوست نه خلك یعني نه آسمان نردبان یا پلکاني بوده است براي عروج وي به معراج مقدس آنجایي که محرم خلوتسراي ذات خداوند «ج» که نشانش بیرنگي است میباشد او کسي است که تاج عزت و افتخار از جانب خداوند«ج» بر سر دارد و ذات مبارکش به مشابه، نگیني است بر انگشتر خلقت یعني حضرت پیامبر برگزیده ترین موجودات است همانطوري که نگین در انگشتر از اهمیت ویژه یي برخوردار است و بدون آن انگشتر بد نما و زشت میگردد کاینات نیز بدون هستي مادي، معنوي و یا روحي وي نازیبا و پر از خلا هاست.

بند پنجم :

چشم او پر نور از دیدار بي کیف خدا
گوش او آویزه دار قول بیچون و چرا
قلب او داناي رمز آشکار و خفا
نور حق تابنده از رویش چو خورشید از سما
گرچه نگرفته قلم در پنجه معجز ظهور
زد قلم از نسخ بر تورات و انجیل و زبور

شرح : چشم او مالامال از نور الهي است و گوش او پیوسته آویزه دار قول بی چون و چرا (وحي الهي) یعني قولي که در آن شك و شبهه وجود ندارد و همه یقین است میباشد. قلب پاك و مصفاي او بر همه راز هاي آشکارا و پنهان داناست و نور حق و حقیقت از چهره مبارکش چنان میتابد که خورشید از آسمان تابش دارد و اگر چه هیچگاهي در سر انگشتان معجزه اساي خویش قلم بدست نگرفته است ولي با آوردن قرآن پاك که کاملترین کتاب آسماني است، کتب آسماني قبلي چون انجیل، تورات و زبور را منسوخ نمود.

بند ششم :

آمد آن نور حقیقت شمعي از قرآن به کف
بر مریضان ضلالت چاره و درمان به کف
عقل بر سر، رحم در دل، شفقت و احسان به کف
پند بر لب، بر زبان توحید حق، ایمان به کف
دستگیري و ترحم را به مسکین و یتیم
دعوت و تاکید کرد، آن صاحب خلق عظیم

شرح : حضرت پیغمبر اسلام آن نور حقیقت در حالیکه شمعي از قرآن را به کف داشت و به وسیله، آن چاره و درمان بیماران ضلالت و گمراهي را میکرد در جهان ما آمد، سرش منبع تعقل و منطق بود و دلش منبع رحم، دستهایش منبع احسان و شفقت. پیوسته بر لبش سخنان پند آمیز بود و بر زبان مبارکش کلمه توحید حق جاري ، ایمان به کف داشت آن ذات مبارك دارنده خلق عظیم که مردم را به دستگیري و ترحم بر مساکین و ایتام دعوت نمود و تاکید زیاد کرد.

ادامه دارد

د اصحابو د ژوند پلوشي

لیکوال : دکتور عبدالرحمن رافت باشا
ژباړن : بشار
۱۰

رسول الله «ص» ورته وویل : ای عمیره! خدای «ج» په داسې دعا سره معزز کړی یو چې هغه ستا له دعا څخه ډېره غوره ده، او خدای «ج» په داسې سلام سره معزز کړی یو چې هغه د جنتیانو دعا ده .

عمیر وویل : په خدای سوگند، ته زمونږ له دعا څخه لری نه یې، او د دغې دعا په نسبت په تا ډېر وخت نه دی تیر شوی.

رسول الله «ص» ورته وویل : ای عمیره! څه شی راوستی یې ؟!

عمیر وویل : زه راغلی یم او هیله کوم هغه بندی چې ستا په لاس کې دی هغه ایله کړی، او د هغه په باب له ما سره نیکی وکړی.

حضرت پیغمبر «ص» وویل :خیر! دا توره د څه لپاره ستا په غاړه کې ده ؟!

هغه وویل : خدای«ج» دې دغه راز توری ورکې کړی، ابا دغو تورو د بدر په ورځ له موږه څه بچ کړای شول .

حضرت پیغمبر «ص» وویل : ای عمیره! راته رښتیا ووایه، د څه لپاره راغلی یې ؟

هغه وویل : زه د هماغه لپاره راغلی یم.

حضرت پیغمبر «ص» وویل : بلکې ته او صفوان بن امیه د حجر سره کښیناستې، او تاسې دواړو د قلیب د خاوندانو، چې د قریشو وژل شوی کسان دی، یادونه وکړه، بیا تا وویل : که پر ما باندې پور او ماسره کورنی نه وای نو زه به وتلای وای، او محمد «ص» به مې وژلی وای. بیا صفوان ستا پور او ستا کورنی د دې په بدل کې چې ته ما ووژنی په غاړه واخیستله او خدای«ج» ستا او د هغه د کار په منځکې حایل دی.

د عمیر فکر تر څو شیبو پورې گډوډ شو او بیایې وویل : زه شاهدی ورکوم چې ته د خدای رسول یې.

او بیایې دا وویل : ای د خدای رسوله ! کله چې به تا موږ ته له اسمانه خبر راوړ او هغه چې به تاته د هغه وحی کیدله نو موږ به تاته د درواغو نسبت کاوه مگر زما هغه خبری چې د صفوان بن امیه سره وې په هغو باندې یې له ما او صفوان څخه بل څوک خبر نه و او په خدای سوگند، ما یقین وکړ هغه څوک چې تاته څه لیږی هغه همدغه خدای «ج» دی، نو زه د خدای ثنا وایم چې زه یې تاته ولیږلم څو ماته د اسلام لاره وښیی.

بیا عمیر شاهدی وویله چې خدای «ج» یواځنی معبود دی، او محمد «ص» د هغه رسول دی. بیا رسول الله «ص» وویل : خپل ورور ته د دین ښودنه وکړی، هغه ته قرآن وښیی د هغه بندی ایله کړی.

مسلمانانو د عمیر بن وهب په اسلام منلو سره ډېره خوښی وکړه تر دې چې عمر بن الخطاب «رض» وویل : کوم وخت چې عمیر بن وهب رسول الله «ص» ته راغی نو ماته د هغه په نسبت خوگ ډېر گران و او نن هغه ماته زما د خپلو ځنو زامنو څخه ډېر گران دی.

په هغه وخت کې چې عمیر د اسلام په تعلیماتو سره خپل ځان ستړه کاوه او خپل زړه یې د قرآن له رڼا څخه ډکاوه، او د خپل ژوند ښې ورځې یې تیرولې تر دې چې ډېری خوشحالی له هغه څخه مکه او د مکې خلک هیر کړل نو په دغه وخت کې صفوان بن امیه خپل ځان ته د هیلو تسل ورکاوه، او د قریشو مجلسونو ته ورته او داسې به یې ویل : تاسې ته د یوه لوی خبر زیری درکوم، او هغه تاسې ته ژر رسیدونکی دی، او له تاسې څخه به د بدر پیښه هیره کړی.

کله چې د صفوان بن امیه انتظار اوږد شو، نو بیا ورو ورو هغه په ځان کې نارامی پیدا کیدلې، او چې شپه یې سبا کیدله نو داسې شو چې گونډی د اور په سکروټو یوه خوا او بله خوا اوړی او را اوړی . بیا هغه د عمیر بن وهب په باب د سورو څخه پوښتنه کوله مگر داسې ځواب یې نه موند، چې په هغه سره یې خواښه شي تر دې چې اخر یو سپور راغی، او هغه ته یې داسې خبر ورکړ : عمیر اسلام منلی دی.

د غه خبر په هغه باندې لکه تکه ولگید ځکه گمان یې کاوه چې عمیر بن وهب به هیڅکله اسلام ونه مني، د مثال په توگه که د ځمکې پر مخ ټول خلک اسلام ومني مگر هغه به هیڅکله د اسلام منونکی نه وي.

ولی هر څه چې عمیر بن وهب و هغه د خپل دین په باب زده کړه کوله، او څو چې به یې وسه وه له قرآن څخه یې یادول کول تر دې چې حضرت پیغمبر «ص» ته راغی او ورته یې وویل : ای د خدای رسوله ! په ما باندې زمانه تیره شوه، او زه په تل د خدای «ج» د رڼایی په وژلو پسې وم، او هغه څوک چې به د اسلام په دین و هغه ته به مې ډېر ضرر رساوه، اوس زه په دې خوښ یم چې ته راته اجازه وکړی څو مکې ته ورشم، او قریش د خدای «ج» او د هغه د رسول «ص» دین ته راوبولم که هغو زما خبره ومنله نو ښه به یې کړی وي ، او که یې ته منله نو هغو ته به د خپل دین په باب تکلیف ورسوم څنگه چې مې پخوا د رسول الله «ص» ملگرو ته تکلیف رساوه .

حضرت پیغمبر «ص» ورته اجازه ورکړه او هغه مکې ته لاړ، او د صفوان بن امیه کور ته ورغی ، او ورته یې وویل : ای صفوانه! ته د مکې د خلکو د ساداتو، او د قریشو له پوهو کسانو څخه یې ایا دا درته ښه ښکاریږی چې تیږو ته ستا عبادت او د هغو لپاره حلاله د عقل له نظره دین وگڼل شي ؟! ولی هر څه چې زه یم وایم : اشهد ان لا اله الا... بیا عمیر په مکه کې خلکو ته د خدای په لوری بلنه ورکوله تر دې چې د هغه په لاس ډېر خلک مسلمانان شول. خدای دې عمیر بن وهب ته ډېر اجرونه ورکړی، او د هغه قبر دې روښانه کړی .

پاتي لري

چیچنیا سوځی

محمد الله «نورستاني» قسمت اول

دپخوانی شوروی اتحاد په ړنگیدو سره په منځنی اسیا کی اسلامی هیوادونه او د روسیې په ختیځ کې ډېر کفری مملکتونه ازاد شول په همدې ورځو کې د روس په جنوب کې په پرتو اسلام نشینو سیمو باندی هم د خپلواکی غږ ولگید او براځی چیچن و چی پخپل دریغ باندی کلک ودرید او د اروایښاد جنرال جوهر دوداییف تر مشری لاندی یې د ازادی اعلان وکړ . د ازادی له اعلان سره جوخت یې له روس سره جنگ پیل شو چې له ۱۹۹٤ څخه نیولی تر ۱۹۹٦ پورې یې دوام وموند بالاخره د ۸۰ زرو کسانو له قربانولو وروسته روسی پوځ له چیچن څخه ووت. روسانو سره خ سې اتری وشوی، وروسته بیا انتخابات تر سره شول . اوله چیچن سره د هغه د سیاسی حیثیت په اړه تر ٥ کالو پورې د چوپتیا غوره کولو لوظنامه وشوه، او په کورنیو چارو کې یې بشپړه خپلواکی تر لاسه کړه .

په قفقاز (کوه قاف) کې د موقعیت درلودلو له امله چیچنیا د ډېر لوړ اهمیت لرونکی سیمه ده ځکه چې د بحر خزر او بحر اسود تجارتی لاری هم له همدی سیمو څخه تیریږی له همدی کبله روسیې د چیچن ازادی تسلیم نکړه او پدی تمه وه چی کله به د دوهم ځل لښکر کشی لپاره موقع تر لاسه کړی.

نورو سیمو ته د چیچن د آزادی د انگازو په رسیدو سره په داغستان کې د جهاد زمینه مساعده شوه مجاهدین له چیچن څخه ووتل او د داغستان په کافی سیمو باندی یې قبضه قایمه کړه دا د ۱۹۹۹ کال د اگست د میاشتې خبره ده دغې کاروایی روسیې ته د لاس وهنې لاره اواره کړه او د ۱۹۹۹ کال د دسمبر په ٥ مه نیته روسی پوځ د چیچن پر خلاف د جنگ لوبه گرمه کړه، اوله ۹۰ زرو څخه زیات پوځ د جنگ سنگر ته ورسید چې بالمقابل د مجاهدینو شمیر له ۹ زرو څخه هم کم و. پدی جنگ کی روسی هوایی ځواکونو ته ښه موقع په لاس ورغله او هره ورځ به یې په سلگونو حملی تر سره کولی د بېلگی په توگه یوازی د ۱۹۹۹ کال د نومبر د میاشتې څو پیښې په لاندی ډول ذکر کولای شو .

د ۱۹۹۹ د نومبر په لومړي نیټه د گودر میز په ښار باندی د بمبارۍ له کبله له ۱۰۰ څخه زیات ښاریان شهیدان او په زرگونو خلک انگوشتیا ته په هجرت کولو مجبور شول.

د ۱۹۹۹ د نومبر ۲ مه د انگوشتیا په سرحد کې د زرگونو مهاجرینو له جملې څخه صرف ۱٥۰ کسانو ته نوموړی هیواد ته د داخلیدو اجازه ورکړل شو ه.

د ۱۹۹۹ کال نومبر په ٥ مه په ۲٤ ساعتو کی ۱۰۰ هوایی حملی وشوی.

د ۱۹۹۹ کال نومبر په ٦ مه پر گروزنی له ٤۰ دقیقو څخه په زیات وخت کی پر له پسی بمباری وشوی چی ورکی په زیاته اندازه ځانی او مالی تاوان وشو.

د ۱۹۹۹ د نومبر ۹ مه روسیې پر جنوبی سیمو باندی په الوتنو بندیز ولگاوه چی د نوموړی بندیز له مخې چیچن، داغستان انگوشتیا او په نوموړی طرف د نورو هیوادونو ټول پروازونه معطل شول .

د ۱۹۹۹ کال نومبر په ۱۱ مه په ۲٤ ساعتو کې له ۱۰۰ څخه زیاتی فضایی حملی وشوی او د روسیې د خبری ذریعو د رپوټونو له مخې ۳۲۰ کسان شهیدان او دارنگه د روسی پوځ ۲۸۰ کسه مړه او له ٦۰۰ څخه زیات ټپیان شول.

د ۱۹۹۹ د نومبر ۱۳ مه په ۲٤ ساعتو کې له ۱۸۰ څخه زیاتی هوایی حملی وشوی.

د ۱۹۹۹ کال نومبر په ۱۸ مه د گروزنی او اروس مارتان په ښارونو باندی د بمبارېو له کبله ۱۷۰ کسه په شهادت ورسیدل.

د ۱۹۹۹ کال نومبر په ۲٥ مه په ۲٤ ساعتو کی له ۱۸۰ څخه زیاتی فضایی حملی وشوی چې پکی له ۱۰۰ څخه زیات بې دفاع ښاریان پکې شهیدان شول.

د ۱۹۹۹ کال نومبر په ۲۲ مه د انگوشتیا په لور د مهاجرو شمیر له ۲۲۰ زرو څخه هم اوښتی و پدی ورځ هم په اروس مارتان سختی هوایی او ځمکنی حملی وشوی.

نامه وارده

در شفاخانه رابعه بلخي چه دیدم ؟!!

اطلاع داشتم که شفاخانه رابعه بلخي یکي از شفاخانه هاي مخصوص طبقه نسوان در شهر کابل بوده و با داشتن تمامي بخش هاي طبي یکي از مراکز مجهز و کامپلکس خدمات طبي محسوب میگردد با یکي از خویشاوندان خود که مریض بود و از ولایت میدان وردك به کابل آمده بود وارد شفاخانه مذکور گردیدم در ابتدا ، نظم و دسپلین شدیدي را که در دروازه دخولي شفاخانه حکمفرما بود خیلي پسندیدم بعد از اخذ اجازه از کارگر زنانه دهن دروازه عمومي داخل صحن شفاخانه گردیدم غرض دریافت شعبه نسایي و ولادي از یکتن خواهران رهنمایي شدم مرا به جانب اطاق معاینه مریضان سراپا رهنمایي کرد زمانیکه به دروازه وارد مذکور رسیدم بیرو بار زیاد برا دیدم مریضان مختلف اناث که از سنین ابتداي جواني گرفته تا شصت و هفتاد ساله عقب دروازه ایستاده بودند هر کدام تلاش داشت تا داخل دهلیز شوند اما دروازه بسته بود گاهگاهي درازه باز مي شد و یکي دو تن داخل و دروازه دو باره بسته مي شد پرسان نمودم که شرط داخل شدن چیست؟ یك خانم خیلي ضعیف و داراي لباس کهنه که نشان دهنده فقر و مرض شدید وي بود برایم گفت : اي بیروبار از خاطر پیسه نه دادن اس هر کس که به خاله گك پنج ده هزار بته اوره اجازه میته دیگا همیتو استاده استند و میگن که باش داکترا بیاین با شنیدن این جواب خیلي متاثر شدم که جرا مسولین شفاخانه چنین شرایطي را وضع نموده اند که زمینه استفاده جویي تا سالم براي کارگران شان مساعد شده و باعث آزار مریضان بیچاره میگردند بعد از یك ساعت انتظار و کشمکش بعد از دادن پنج هزار افغاني وارد دهلیز شدم و به اطاقي که داکتر نسایي و ولادي مریضان را معاینه مي نمود رفتم وقتي آن جا جستجو کردم داکتر صاحب تشریف نداشت پرسان نمودم گفتند که داکتران مصروف ویزیت و معاینه مریضان داخل بستر هستند در این لحظه یکتن از دوکتوران مردانه را که معلوم مي شد متخصص است دیدم که از بین دهلیز مي گذرد کارگر دهن دروازه برایش گفت: داکتر صاحب چند نفر مریض شما را میخواهد. داکتر صاحب با بي اعتنایي زیاد جواب داده چنین گفت : وخت ندارم حالا وقت ویزیت است اگر نني مام باشه نمانیش . با شنیدن این جواب از زبان شخصي که متخصص و تحصیل کرده بود خیلي متاثر شدم و با خود اندیشیدم که این متخصص با این حد بي پروایي که حتي غم مادر خود را هم ندارد چگونه خواهد توانست تا براي این مردم بیچاره خدمت نماید با خود گفتم آخر اگر وقت ویزیت هم باشد مسوولین شفاخانه باید یکتن از دوکتوران خود را غرض معاینه مریضاني که از بیرون مي آیند موظف سازد تا مریضان بیچاره سرگردان نشوند .

بهر صورت بعد از چند دقیقه با یکتن از دوکتوران زنانه روبرو شدم خیلي مهربان بود بعد از شنیدن شکایات من و مریض ما خیلي اندوهگین گشته و گفت چه کنیم براي این کارگرها هر چه نصیحت مي کنیم کم میشنوند بعداً مریضه را به اطاق معاینه برده و معاینه نمودند نسخه اي تحریر و بدست ما داد و علاوه نمود که بار دیگر به معاینه خانه بیاید اینجا بیرو بار زیاد بوده برایتان تکلیف است از شنیدن این کلمات باز هم بیشتر حیران شدم زیرا این داکتر صاحبه به شکل دیگري دست به سوي استفاده مي زد عوض اینکه ما را به شفاخانه بخواهد به معاینه خانه دعوت نمود تا چیزي به نام فیس اخذ کند از این سه برخورد فوق که از آنها بوي استفاده جویي و عدم دلسوزي به حال این مردم بیچاره مي آمد خیلي نا راحت گشته خواستم به ریاست شفاخانه سر زده و در مورد مشکلات فوق همرایشان در تماس شوم متاسفانه که رئیسه صاحبه تشریف نداشتند با یك عالم یاس و پریشاني دو باره از راهي که آمده بودیم برگشتیم اما این خاطره تلخ هنوز هم افکارم را پریشان و روحاً زجر میکشم و هر لحظه با خود مي گویم وا به حال ملت بیچاره اي که دکتوران شان این قدر قسي القلب ، بي پروا و استفاده جو باشند !!

مریم میرزا زاده از مکروریان سوم

د کابل ښار د ځنباک د...

په چټکۍ سره مخ په وړاندې روان دی.

دغه ټکی د افغانستان د اسلامي امارت د عامي روغتیا په وزارت کی د ځنباک د اوبو د کلوریشن د پروګرام مسول محترم الحاج سید نجیب الله «معصوم یار» زموږ له خبریال سره په مرکه کی څرګند او زیاته یې کړه : د ځنباک د اوبو د کلوریشن دا پروګرام د افغانستان د اسلامي امارت د عامي روغتیا وزارت په نوښت او د نړی د روغتیایی سازمان WHO د نړی د خوراکی پروګرام WFP او د ملګرو ملتو د یونیسف د اداری په مالی او تخنیکی مرستو پیل شوی.

د کلوریشن په دی پروګرام کی چی د عامي روغتیا وزارت له خوا پر مخ بیول کیږی د ۵۸ تنو ښځو په ګډون چی د میلفینو په توګه به له موږ سره همکاری ولری ټول ۲۳۵ تنه ګډون لری چی له دی جملی نه ۳۰ تنه د اوبو رسولو او کانالیزاسیون له تصدی او د کلبو د پراختیا د اوبو رسولو له ریاستونو څخه او همدارنګه ۲۰ تنه نور د عامي روغتیا وزارت له لابراتوارونو څخه د مسلکی پرسونل په توګه له موږ سره مرسته او همکاری کوی. دا یو بیړنی پروګرام دی چی یوه میاشت به دوام وکړی او بوازی د کابل ښار او چهار آسیاب ولسوالی کی د تطبیق وړ دی. همدا اوس مو د کابل ښار په اتو ناحیو کی کار پیل کړی البته موږ له اړوندو تمویلوونکو مراجعو سره د توافق په صورت کي په پام کي لرو چي په نږدی راتلونکی کی د کلوریشن یو پراخ څلور میاشتني پروګرام هم پیل کړو چی په ترڅ کی به یې د کابل ښار او شاو خوا سیمو د ځنباک د اوبو ټولی څاګانی او منابع کلوریشن کړی شی.

سهد یوسف

عربی ټولنی له ...

امریکا په خپله د منځنی ختیځ د سولی په بهیر کی د منځګړی رول لری.

د عصمت عبدالمجید په خبره د فلسطینیانو د خپلواکی اداری رئیس یاسر عرفات دغه شان څرګندونو ته په پام لرنی سره د دی حق لری چی د فلسطینیانو د خپلواک دولت جوړول اعلام کړی.

سیمینار تغذي از شیر ...

وقایوي و محترم دادگر نماینده اداره یونیسف در کابل در رابطه به مزایا و فضیلت هاي شیر مادر از نگاه دین مبین اسلام و اهمیت و ارزش آندر صحت و سلامتي اطفال صحبت نموده رسالت و وجایب دوکتوران و سایر پرسونل طبي شفاخانه ها و کلنیك ها را در روشن ساختن اذهان مادران در قسمت تغذي از شري مادر براي اطفال بیان داشته و از ایشان تقاضا نمودند که با استفاده از وسایل و امکانات موجود در شفاخانه ها و کلنیك هاي مربوط شان مفاذ و اثرات مثبت شیر مادر را در حیات اطفال و پیامد هاي اکوار عدم تغذیه اطفال از شیر مادر را براي مادران تشریح و توضیح نمایند.

کنفرانس مؤسسات ...

پاکي در تالار هوتل آریانا تدویر گردید.

در این کنفرانس که به اشتراك محترم ملا محمد حسین مستعد معاون اداره امور ، محترم مولوي نورالهدا رحمت رئیس آماده گي مبارزه با حوادث اداره امور نماینده سازمان ملل متحد در امور هم آهنگي کمك هاي مالي براي موسسات مین پاکي و رؤسا و مسوولین ادارات مین پاکي تدویر گردیده بود ابتدا محترم معاون اداره امور کار کنفرانس را با ابراد بیانیه یي افتتاح نمود.

بعداً شاغلي انتونیودونیني آمر عمومي جلب کمك هاي مالي ملل متحد براي افغانستان طي صحبتي از کمبود بودجه مالي و ضرورت جدي بر طرف نمودن خطرماین براي مردم افغانستان بیانیه یي ابراد نمود سپس محترم اقبال امر عمومي پروگرام هاي مین پاکي براي افغانستان گزارش فعالیت هاي موسسات مین پاکي را براي افغانستان ارائه نموده در رابطه به تحقق پلان مطروحه شش ماه اول سال ۲۰۰۰ میلادي و طرح پلان ربع سوم سال روان صحبت نمود.

وي متذکر شد که تا کنون یك اعشاریه پنج ملیون مهاجر برگشته به وطن در ساحه پاك کاري شده از ماین به زنده گي خویش آغاز نموده اند.

این کنفرانس براي سه روز در تالار متذکره ادامه خواهد داشت .

کار ترمیم سرك ...

مناسبت در مسجد جامع مارکو تدویر یافته بود محترم مولوي لطف الله حقاني رئیس فواید عامه ولایت ننگرهار محترم مولوي محمد رفیق ولسوال اچین محترم مولوي طالب جان ذکي مستوفي ننگرهار محترم مولوي سید عمران هاشمي رئیس سرحدات و قبایل محترم مولوي عبدالرشید شنواري رئیس پوهنتون ننگرهار ، محترم مولوي سلطان محمد و محترم مراد خان به نماینده گي از مردم شینوار در رابطه به کار هاي عمراني امارت اسلامي افغانستان صحبت نموده اعمار مجدد کشور را مستلزم تلاش ها و زحمات خستگي ناپذیر مسوولین و انجنیران در کشور دانستند.

سپس محترم معاون اقتصادي ریاست الوزرا در رابطه به موضوع صحبت نموده آغاز ترمیم و جغل اندازي راه مواصلاتي متذکره را اقدام نیك و ارزنده خوانده و در جهت تسریع امور مربوط به مسوولین ذیربط رهنمایي هاي لازم نمود سرکت متذکره که از بازار مارو الي بازار غني خیل ولسوالي شینوار ولایت ننگرهار به طول هشت کیلو متر امتداد دارد از سوي ریاست فواید عامه آنولایت ترمیم و جغله اندازي میگردد.

تعزیت او تسلیت

ددانش خپرندویه ټولنی مشر ښاغلی اسد الله ساپی د مور بی بی د مړینی له امله نوموړی او د کورنی نورو غړو ته د الله تعالی له دربار نه د صبر جمیل او اجر جزیل غوښتنه او خدای بښلی ته د مغفرت او فردوس جنت دعا کوو.

شهرت ننګیال

د مطبوعاتی خدمتونو مرکز مشر

د بهرنیو چارو وزارت ...

اسلامي امارت په خلاف کیږی په بشپړه توګه له حقیقت او واقعیت څخه لری دی ځکه اسلامي امارت تل هڅه او هاند کوی چی د جګړی په بهیر کی ملکی او بی ګناه خلکو ته کوم تاوان ونه رسیږی او د هغوی د سر او مال ساتنه د خپلو اسلامي مسولیتونو له جملی څخه بولی.

د کښتنی په بهیر کی شاغلی توماس روتینګ د اسلامي امارت د سوله ییز دریځ درناوی وکړ او په افغانستان کی یی د سولی او ثبات د تامینولو او د جګړی د بندولو په باره کی وویل: ملګری ملتونه تل ټینګار کوی چی د افغانستان قضیه په خپله د افغانانو لخوا د خبرو او مفاهمی له لاری حل شی او نړیوالی ټولنی باید د سولی د بهیر د پر مخ بیولو لپاره هر اړخیزه همکاری وکړی.

داطلاعاتو او کلتور ...

امنیت تامین کړیدی

افغان ولس د هغو کړنو او خدمتونو له امله چی د خلکو د ژوندانه په بیلا بیلو برخو کی یی د هغوی په ګټه اسلامي امارت تر سره کړیدی راضی او خوښ دی او دغه میړنی ولس به خپلو کورنیو او بهرنیو دښمنانو ته ددی اجازه ورنه کړی هغه سوله او امنیت چی په زیاتو سربښندنو او ځان تیریدنو سره تر لاسه شویدی ګدود کړی ځکه افغان ولس د ګدودیو تریخ خوند زیات څکلی دی نو د سولی او ارامی په ښیګنو ډیر ښه پوهیږی.

ده زیاته کړه د پیشرتامین څرګندونی د افغانستان د زوریدلو خلکو له هیلو او ارمانونو سره بشپړ توپیر لری او هغه ټکی په کی موجود دی چی د افغانستان د مسلمان ملت د ملی ګټو او حاکمیت پر ضد دښمنی پاروی.

د فرانسي د هوایي ...

مربوط یوه کانکور د دوله الوتکه پرون له لندن نه نیویارک ته د الوتنی په وخت کی دی ته اړه شوه چي کانادا کی راښکته شی ځکه مسافرو په الوتکه کی د بنزینو بوی احساس کړ.

په اوسنی وخت کی د انګلستان هوایی شرکت د کانکورد دوله الوتکو څخه چی له غړنه چټکی دی د مسافرو د لیږدولو کار اخلی یوه دغه دول الوتکه تیره اوونی پاریس ته نژدی راوغرځیده او د هغی ټولی یو سلو د یارلس سپرلی ووژل شوی.

یو زیات شمیر ...

وروسته دغه کروندی په هغو تور پوستو باندی وویشی چی کروندی نه لری.

د رسمی رپوټونو له مخی په زمبابوی کی د سپین پوستو د مالکیت د سلبولو کار د روانی اوونی په بهیر کی پیل کیږی.

امریکا پر ایران ...

وکړه چی ایران د وژونکو وسلو د پراختیا په لاره کی فعالیت کوی.

د ګوون بیه له هیواد نه بهر		
ملك	شپږ میاشتنی	کلنی
پاکستان	RS200	RS400
دخلیج هیوادونه	SR.150	SR.300
اروپا او امریکا	US$75	US$150

محترم قاضي القضات ا.ا.ا ...

و در باره اینکه آیا قاضي را خلیفه الله جل جلاله گفته میتواند و یا چطور اختلاف علما وجود دارد در فتاوي تاتار خانیه ذکر گردیده که به نزد بعضي علما به قاضي خلیفه خداوند جل جلاله نیز گفته میشود. فقها مینویسند هرگاه این چنین مقام عالي و مقدس براي قاضي نصیب گردید لازم است که او بطور کامل در چوکات شریعت اراسته و استوار بوده ، بدخوي، سخت دل، درشت سخن و متکبر نباشد. و هم باید هیچ گونه بي اعتنایي و یا سر کشي از حق و عدالت در او وجود نداشته باشد.

محترم قاضي القضات افزودند : قضات محاکم باید تمام موضوعات حقوقي و جزایي مردم را بوقت و زمان خود حل و فصل نمایند و همیشه کوشش کنند که موضوعات حقوقي به جزایي مبدل نشود ، بعضي اوقات که یك موضوع حقوقي در محاکم تاخیر میشود هر دو جانب دعوي صبر را از دست داده و حوصله شان به پایان میرسد که موضوع در بین شان به جنگ و جدال، و حتي به قتل و قتال کشانیده میشود و در چنین حالات بعضي مردم آن را از محاکم دانسته و ملامتي را بدوش قضات محاکم مي اندازند پس باید هیچگاه به مردم چنین موقع داده نشود.

محترم رئیس ستره محکمه علاوه نمودند: بعضي اوقات یك موضوع در محاکم سه گانه فیصله شده میباشد و آن جانب که ملامت شده باشد از عالیقدر امیر المومنین امر تجدید نظر اخذ مي نماید و بعد از رسیدن هدایت عالیقدر امیر المومنین به ستره محکمه یکي از جانبین خود را غایب مي سازد که خود آن شخص که احکام تجدید نظر را آورده غایب میشود و مقصد او معطلي تطبیق فیصله هاي محاکم سه گانه میباشد و یا جانب دیگر غایب میشود و فکر میکند که فیصله هاي محاکم در حق من صادر گردیده است پس باید هر دو جانب به قضات حاضر شوند و در غیر آن در باره شان تدابیر شرعي لازم اتخاذ میگردد که در آن صورت هیچ کس حق شکایت را نخواهد داشت. سپس روي موضوعات شامل اجندا بحث و بررسي دقیق و همه جانبه بعمل آمد.

ما ارزشمندي پروگرام هاي تعلیمي را ...

آریانا افغان - ترك ۱۶ ماه قبل به همکاري و کمك مالي موسسه غیر حکومتي ترکي بنام جماعت نور به منظور ارتقاع سطح دانش و تعلیم و تربیه نسل جوان کشور در شهر کابل ایجاد گردید.

ابتدا محترم مخدوم عالسیمع قرلق مدیر افغاني این مدرسه در رابطه به چگونگي پروگرام تدریسي مدرسه متذکره به خبرنگر ما چنین توضیحات داد : سیستم تعلیمي در مدرسه افغان - ترك عیناً مطابق نصاب تعلیمي مدارس متوسطه و قانوي معارف کشور میباشد. فعلاً درین مدرسه مجموعاً ۲۰۲ طالب العلم در صنوف ۷ و ۸ در ۷ شعبه تحت تدریس استادان داخلي و خارجي(ترکي) قرار دارند.

وي اضافه داشت : سالانه طالب العلمان درین مدرسه بشکل تدریجي ارتقاع میکنند به این معني که در هر سال یك نصف تعلیمي اضافه شده میردو درجه نهایي تعلیمي درین مدرسه صنف دوازدهم میباشد، هکذا سالانه حدود ۱۰۰ نفر جدید الشمول تحت شرایط اخذ امتحان کانکور درین مدرسه پذیرفته میشود.

محترم قرلق افزود : در پهلوي مضامین عصري درین مدرسه ۳ زبان خارجي نیز تدریس میگردد که عبارت از بان انگلیسي ، عربي و ترکي است، همچنان پروگرام هاي ادتدایي و پیشرفته کمپیوتر نیز در پهلوي مضامین مدرسه خارج از نصاب تعلیمي تدریس میگردد که اداره مدرسه به همین منظور ۱۶ پایه کمپیوتر جدید خریداري نموده است.

محترم قرلق در اخیر صحبت خویش گفتند : ما در تفاهم با وزارت معارف براي طالب العلمان مدرسه افغان - ترك یونفورم خاص تعین نموده ایم که شامل پیراهن و تنبان برنگ آبي ضم یك کلاه میباشد، ضمناً درسو ما که روزانه از ساعت ۸ صبح الي ۴:۳۰ عصرادامه دارد ، البته طالب العلمان ما از دو نوع تسهیلات خوب دیگر که اداره مدرسه برایشان تدارك دیده نیز مستفید میباشند : اولاً انتقال طالب العلمان ما ذریعه ۳ عراده بس از منزل به مدرسه و از مدرسه دو باره به منزل، ثانیاً سرویس طعام چاشت روزانه آها در طعام خانه مدرسه میشاد.

محترم آدم کوسه معاون ترك مدرسه فعالیت موسه غیر حکومتي جماعت نور ترکیه را در افغانستان چنین ارزیابي نمود : موسسه خیریه تعلیمي جماعت نور مردم ترکیه به شمول مدرسه بین المللي آریانا افغان - ترك در سطح افغانستان ٦ مدرسه دیگر نیز ایجاد نموده اش که این مدارس در ولایات کابل ، کندهار، مزار، سمنگان، شبرغان و میمنه قویاً فعالیت دارد .

وي اضافه داشت : ما ارزشمندي پروگرام هاي تعلیمي را در افغانستان بالاتر از پروژه هاي غذایي میدانیم، تقاضاي ما از سایر موسات خیریه غیر حکومتي به شملو ملل متحد این میباشد که اگر آنها بجاي پروژه هاي غذایي پروگرام هاي تعلیمي و تربیتي را در افغانستان تقویت ببخشند.

محترم کوسه اضافه داشت : معیار پذیرش درین مدرسه فقط استعداد و لیاقت شخص میباشد ؛ چنانچه در سال ۱٤۲۱ تعداد مشمولین امتحان کانکور ما به ۱۵٦۹ نفر درین مدرسه بود که از آن جمله صرف ۱۰۰ نفر آن جذب گردید.

محترم جوره محمد «قرباني» یك تن از استادان مدرسه آریانا افغان-ترك نظرشرا در رابطه به باز سازي معارف کشور اینگونه ابراز داشت : از اینکه ما شدیداً نیازمند باز سازي معارف کشور هستیم اگر سایر موسسات نیز کمك هاي خود را در عرصه معارف سوق نمایند خیلي ها تعین کننده مي باشد.

در اخیر به عنوان آخرین نظر پشنهاد احمد شفیق جدي طالب العلم صنف هشتم مدرسه آریانا افغان ترك را چنین دریافت نمودم : ما از تاجران وطن خویش تقاضا داریم تا آنها هم در باز سازي علمي کشور سهیم و درین راه همکاري نمایند.

مهربان

SHARIAT WEEKLY
Published by :
Islamic Emirate of Afghanistan
Chief Editor: Abdurrahim Saqeb
Printed by: Emirate's Printing Press